احسان الله آرینزی ۲۰۱۱/۱۲/۲۸

# بیا هم د جدي شپږمه

د هرهېواد په تاریخ کې د ښو، نېکمرغه او ویاړلو ورځو ترڅنګ، توري، بدمرغه او داسې ورځې هم شته چې د خپل ماهیت او سباني اغېز له امله ډېرې ځوروونکې پایلې لري او د همغه هېواد د تاریخ ننګ باله شي.

د افغانستان په ډېرمعاصر تاریخ کې د ثور اوومه (۱۳۵۷ هـ.ش یا لمریز)، د جدي شپږمه (۱۳۵۸ل) ، د ثور اتمه (۱۳۷۱ ل) ، د نومبر اوومه (۲۰۰۱م) او ځینې نورې ورځې ډېرې تورې ورځې دي.
د ثور په اوومه د افغانستان د خلکو دیموکراتیك ګوند د محمد داوود خان رژیم نسکور کړ او په ځای یې داسې نظام ټینګ کړ چې خبرې یې کتابي ښې وې؛ خو په عمل کې یې ډېرې درندې ترپوتنې وکړې. د جدي په شپږمه د شوروي اتحاد سرو پوځونو په افغانستان یرغل وکړ. دوی تمه درلوده چې نظام به وژغوري او د هند د سمندر تودو اوبو خوا ته به یو ګام نژدې شوي وي. کوم ارمان چې ان د تزاري روسیې له وخته ناختلی پاته و ، اخر د خلك دیموكراتیك ګوند د پرچم د ډلګي په مشرۍ او لاربښوونه د افغانستان د خلکو له سترغبرګون او پاڅون سره مخامخ شو.
ګوند او مشرتابه فکر کاوه چې د افغانستان د خلکو استازي دي او هر څه د خلکو په نامه د شوروي ټانکونو او الوتکو په زور په دې ببوزلي ولس تحمیلولای شي او شوروي اتحاد هم فکر کاوه چې د ختیځ پوهنې انستیتوت لري او پوهانو یې د افغانستان د تېر تاریخ، جغرافیایي ځانګړتیاوو، قومي جوړښت، دیني ارزښتونو، ملي روایاتو، ولسواکۍ او د قواوو د انډول په اړه پوره څېړنې کړي او افغانستان ښه پېژني. شوروي مشرانو هم فکر کاوه چې افغانستان به د کلاشنکوف په زور ایل کړي. د روسیې سمبول قطبي خرس چې پخوا هر ځای پل ایښی و، بیا نه و په شا شوی او هغه سیمه یې لاندې کړې وه؛ خو افغانستان یو بل شان هېواد و او دا نه ایلېدونکي خلك یو ځل بیا د تاریخ له یوه ستر آزمون سره مخامخ شول!
د افغانستان د هغه وخت ترخو واقعیتونو دا ثابته کړه چې د شوروي اتحاد د ختیځ پوهنې د انستیتوت پوهانو او متخصصینو افغانستان سم نه و پېژندلی. دې انستیتوت دنده درلوده چې له افغانستان سره د چلند په اړه د شوروي اتحاد د بهرنیو چارو وزارت او مشرتابه ته سم معلومات ورکړي؛ خو داسې ښکاري چې دې انستیتوت افغانستان د ببرك کارمل د معلوماتو له مخې پېژاند او خپلو سیاسي بوډاګانو ته یې داسې ناسمه مشوره ورکړه چې هم یې افغانستان غرق کړ او هم شوروي اتحاد د نړۍ له نقشې ورك شو!
د خدای کارونه دي کله چې ببرك کارمل د شوروي سرتېرو په مرسته د افغانستان واکمن و، په وار- وار یې ویلي وو چې که شوروي محدود وسله وال ټولګي افغانستان ته نه وای راغلی؛ نو دا هېواد به د پخواني واکمن حفیظ الله امین، تورې ارتجاع، پاکستان او CIA په توطیه، د نړۍ له نقشې څخه ورك شوی و! خو خلکو بیا داسې وخت هم ولید چې افغانستان و ؛ خو ببرك کارمل او شوروي اتحاد دواړه نه وو! ببرك کارمل په بېکسۍ کې ومړ او د شوروي اتحاد ستړواکي دړې وړې شوه. دا ځکه چې د افغانستان خلك پردي یرغل ته سلامي نه شول. له ختیځ څخه تر لویدیځ او له شمال څخه تر جنوب پورې، ښځې او نارینه، ځوانان او بوډاګان مطلق اکثریت پاڅېدل، ټوپك ته یې لاس کړ او د هېواد د خپلواکۍ ستره ملي جګړه یې پیل کړه.
دا جګړه بریالۍ شوه، د شوروي اتحاد سرې لښکرې له افغانستان څخه لاړې؛ خو خلکو د خپلو سترو قربانیو، سرښندنو، مېړانې او وینو ګټه ترلاسه نه کړه او هغه استخباراتي کړۍ واك ته ورسېدې چې ګاونډیانو د خپلو راتلونکو پلانونو د عملي کولو له پاره، د افغانستان د خلکو د ویاړلي جهاد په صفونو کې ځای په ځای کړې وې. دا توره ورځ د ثور اتمه ورځ وه چې په افغانستان کې یې د پردیو په لسمه د کورنۍ جګړې اور بل کړ او وران وطن یې له نویو بدمرغیو او ناورینونو سره مخامخ کړ.
د افغانستان په ډېر لنډ تاریخ کې د طالبانو برۍ او ماته هم په دې ورځو کې راځي چې د دې کړېدلي ولس دردونه نور هم ورسره زیات شول او په پای کې د نومبر اوومه (۲۰۰۱م) هم همداسې یوه توره ورځ ده چې افغانستان بیا له یوه لوی پردي یرغل سره مخامخ شو، دا ځلې امریکا او ناتو زموږ په هېواد یرغل وکړ. امریکا کټ مټ د شوروي اتحاد د مشرتابه تېروتنه تکرار کړه او د زمریانو ځالې ته یې پوځونه واستول. اوس په افغانستان باندې د امریکا- ناتو د یرغل یوولسم کال دی. امریکا هم غواړي چې د شوروي اتحاد په شان د خپلو یو شمېر زرخریده ملګرو په مرسته، د افغانستان په خلکو داسې سیاسي، فرهنګي او اقتصادي سیستم مسلط کاندي چې په نوره نړۍ کې یې ښه نتیجه ورکړې؛ خو دلته د غیر دیموکراتیکو عناصرو په واسطه د کلاشنکوف په زور په خلکو تپل کېږي. له همدې امله له سترو غبرګونو سره مخامخ ښکاري او کېدای شي چې له ماتې سره مخ شي.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د افغانستان په معاصر تاریخ کې د جدي شپږمه (۱۳۵۸ل) د تولو بدمرغیو او تباهیو مور ده. همغه تور یرغل و چې تر اوسه افغانستان په اور کې سوځي او د بچیانو په لکونو ککرۍ یې خاورې شوې. که په تېرو دېرش کلونو کې په لکونو خلك وژل شوي، په لکونو معیوب او معلول شوي، په ملیونونو مهاجرت ته اړ وتلي او هېواد له سترو مادي او معنوي زیانونو سره مخامخ شوي.دا ټول د پردیو یرغلونو پایله ده چې د جدي په شپږمه پیل شوي او اوس هم په یوه نوې بڼه ادامه لري.

د تاریخ د تیورۍ یوه وتلې لیکوال (اچ. کار) یو وخت لیکلي وو چې تاریخ ولولئ چې پخوانۍ تېروتنې تکرار نه کړي! لکه چې د افغانستان ډېرو مشرانو او سیاسي فعالینو د (اچ. کار) دا تلپاتې خبره نه ده اورېدلې چې په پرله پسې توگه تېروتنې کوي او ځانونه یې خسرالدنیا والاخره جوړ کړي دي!

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ